مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه ولی ارین
۲۰۲۰/۰۸/۰۷

# یوه بله لار

که چیرې د افغانستان په تاریخ کې د سیاسي فکري غورزنګونو بهیر ته کتنه وشي، لیدل کیږي چې دغه حرکتونه په خورا هېوادني احساس رامنځ ته شوي، د ظلم، استبداد او بې عدالتیو په مقابل کې یې مبارزې پیل کړي او د خپلو سیاسي ارمانونو د تحقق په لار کې یې سترې قربانۍ ــ حتا د اعدامونو تر کچې پورې ــ ګاللي دي.

که د دغو سیاسي غورزنګونو تاریخي پس منظر ته زیر شو، په ۱۸۶۳ کال د امیر شیرعلی خان په وخت کې د افغان سید جمال الدین د اصلاحاتو د پروګرام د عملي کولو له لارې د لومړی ځل له پاره په هېواد کې یو فکري غورزنګ رامنځ ته شو. تر دینه وروسته د لومړي او دویم مشروطیت غورزنګونو جوړېدل د امیر حبیب الله خان په وخت کې د هېواد په تاریخ کې ستر نقش لري، چې دویم مشروطیت حرکت د غازي امان الله خان تر مشرۍ لاندې برپالیتوب ته هم ورسید، خو په خواشینۍ سره چې د افغانانو د ستر دښمن انګریزانو د لاسوهنو او د یو شمېر خرڅ شوو افغانانو د توطیو په نتیجه کې دغه غورزنګ او غازي امان الله خان خپلو ارمانونو ته ونه رسید.

دا یو حقیقت دی چې په هېواد کې هر یو سیاسي حرکت که هغه کیڼ و که ښي، د دې له پاره رامنځته شوي، چې خپل هېواد ته خدمت وکړي، سیاسي، اقتصادي او ټولنیز تکامل رامنځته کړي، چې ځینو یې حتا سیاسي واک هم تر لاسه کړ، خو د دوا‌ړو اړخونو په رهبري مقامونو کې د بهرنیو استخباراتي کړیو د اغیزو په نتیجه کې دغو غوزنګونو خپل اصلي خط او مرامي کرښې ترشاه کړي، او یو شمېر د همدغو کینو او راسته احزابو او تنظیمونو رهبرانو حتا د هېواد خرڅوني او هېواد ورانوني تر کچې پورې هم صرفي ونه کړی، چې دغه ځیرې به تل په هېواد کې د تورمخو په توګه ثبت وي.

د یاد شوو سیاسي ګوندونو او تنظیمونو د یو شمېر خورا ډېرو مشرانو د تیروتنو په نتیجه کې، دغو نهادونو ته نږدې بهرنیانو د خپلو شومو موخو او ګټو د خوندیتوب په خاطر، د دوي تر منځ نفاق، بې باورۍ او نورو منفي پدیدو ته د لمن وهلو له لارې په هېواد کې د ځلوېښت کلنې غمیزې اور دومره تازه کړ چې زموږ د هېواد او هېواد والو مادي او معنوي ارزښتونه یې د له منځه وړو تر کچې ورسول او همدا اوس یې هم سره لوبوي، یو د بل پر ضد یې استعمالوي او خپل ګران ټاټوبی پرې ورانوي او دوي ترې خوند اخلي.

ځلوېښت کلنو ترخو ازموینو وښوده چې هیڅ یو سیاسي ګوند، هیڅ یو تنظیم، هیڅ یوه سیمه او یا هیڅ قوم، قبیله په یوازې توګه نه شي کولای هېواد له دې سترې غمیزې وژغوري، تر څو چې افغانان د تېر په شان ملي یووالی خپل نه کړي او د هېواد او هېوادوالو ګټې خپله ګټې ونه ګڼي.

همدا اوس په هېواد کې د ولس، حکومت او سیاستوالو ترمنځ ترټولو ستره ستونزه بې باوري او یو پر بل بې اعتمادي ده. د داسې وضعیت او د بې باوریو فضا سیاسیون دې ته اړ ویستلي چې پر ځان، قوم، ګروپ، تنظیم او سیمه ایزو اړیکو تمرکز وکړي او نورو ته د شک په سترګه وګوري. د بې باورۍ دغه ستونزه ټول افغانان خو په ځانګړې ډول سیاستوال د پردیو دسیسو ښکار ګرزولي، همدې پردیپالنې چې هم د موجود نظام، هم د طالبانو اوهم د هېواد په سیاسیونو کې تر سترګو کیږي د ولس اوهمدې درې کټګوریو ترمنځ ستر واټن رامنځته کړي او بهرنیانو ته یې ښه فرصتونه برابر کړي چې خپلې موخې
په ښه توګه عملي کړای شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د هېوادوالو له پاره تر ټولو ستره لاسته راوړنه به دا وي چې ترمنځ یې د باور فضا رامنځته شي، د نفاق او بې باوریو هغه اور چې بهرنیان تل ورته پکې وهي درک کړي، له منځه یې یوسی، په یقین سره ویلای شم چې همدا د باور فضا د یو ستر سیاسي جوړښت یا ځواک د رامنځته کیدو له پاره سمه او اسانه لار ده.

ټولو ته معلومه ده چې څلویښت کلن روان بهیر او غمیزه د تیرې سړې جګړې محصول دی چې د بهرنیو اشغالګرو او د هغوي د کورنیو لاسپوڅو له لوري، پر افغانانو تپل شوي او دوام لري.

همدې جګړې او غمیزې د ۲۰۰۱میلادي کال د امریکا او ورسره بین المللی ملګرو، ناټو د ځواکونه په راتګ سره زموږ هېواد خطرناک حالت غوره کړ، چې اساس یې د بُن د کنفرانس غلطه تیره ایښودل و.

د بُن په کنفرانس کې د طالبانو نه موجودیت او د بین المللی ټولنې په سرکې امریکا له لورې ګاونډیوهېوادو، ایران، روسیی او پاکستان ته امتیازات ورکول، د حامد کرزي په مشرئ پر هېواد ورانونکو او د هېواد والو وژونکو ډلو باور کول چې دوي ته د خپل هېواد له ګټو نه د ګاونډیو هېوادو، پاکستان، ایران او روسیې ګټو ارزښت درلود او لري یې، دغو ډلو چې د خپلو شخصي ګټو او ګاونډیو هېوادو د ګټو او موخو د عملي کولو شوم نیت یې درلود؛ د بین المللي ټولنې د ټولو مادي او معنوي امکاناتو نه د هېواد او هېوادوالو په ګټه هیڅ هم تر سره نه کړل، جګړې زور و موند، هېواد مو بین المللی اتبار له لاسه ورکړ، مافیایي کړیو زور واخیست، ګاونډي هېوادونه برلاسي شوول، طالبان چې د جګړې یو اړخ او په کمه سترګه ورته کتل کیدل؛ دا دی نن د یو مطرح ځواک، بین المللي او ډپلوماتیک اتبار د تر لاسه کولو په کچه یې ظهور وکړ او د نولس کلنې جګړې وروسته، دا دی اوس د امریکا او بین المللي تولنې د دوستانو جوګه شول، چې نولس کاله روانه جګړه، هېواد ورانونه، افغان وژنه یانی څه؟

که چیری بین المللي ټولنه په سر کې امریکا په رښتیا هم په هېواد کې د ښې حکومتدارئ، مخدره توکو د له منځه وړلو او د القاعدې د ځپلو په موخه زموږ هېواد ته راغلي وو، خو دغه موخې یوه هم تر سره نه شوې. **دغه امتیازات چې اوس یې امریکا طالبانو ته ورکوي، که چېرى یې د بُن په کنفرانس کې پنځوس سلنه په نظر کې نیولي وای، نو د دې نولس کلنې جګړې د تباهی مخه به نیول شوي وای.**

د پورتنیو توضیحاتو نه مې موخه دا ده چې امریکا، ګاونډي هېوادونه او د دوي کورني لاسپوڅي نه غواړي په هېواد کې سوله، ثبات رامنځته شي، نو ځکه همدوي په ګډه هېواد قبضه کړی، ولس یې یرغمل کړی او د خپلو نورو موخو او ستراتیژیکو اهدافو د عملي کولو په لار کې نوي ګیمونه او پروژې عملي کوي او د سولې لیوال نه دي، چې د افغانانو د نظر او مشورو، د ملي، سیمه ایزی او بین المللي اجماع ، د افغان هېواد د حکومت د استازو له موجودیت پرته د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې د تړون لاسلیک او د زندانیانو د خوشی کیدو پر سر روانه لانجه یې روښانه بیلګې یادولی شو.
زما په اند د سولې رواني هلې ځلې هسی د وخت تیرول دي، ځکه چې د سولې په دواړو اړخونو کې که نظام دی او که طالبان د ګاونډیو هېوادو او نړیوالې ټولنې د استخباراتي کړیو لاسپوڅي شتون لري چې نه غواړي سوله راشي، ځکه چې سوله د دوي په ګټه نه ده.
سوله هغه وخت عملي کیدای شي چې مدیریت یې د افغانانو په لاس کې وي، د سولې د عملي کیدو بل اساسي لامل د دریم قوي او ملي ځواک موجودیت دي، چې د جګړې پر دواړو اړخونو د فشار وسیله وګرزی. د داسې ځواک په جوړېدو کې د ملي، قومي او دیني عالمانو شتون ته اړتیا ده چې د هېواد د روان بهیر په قضیاوو کې دخیل نه وي، پاک، سپیڅلی او د هېواد ګټو ته ژمن کسان وي او د ټاکلو صلاحیت یې هم د افغان ولس له لوري تر سره شي. د سولې د عملي کیدو او سولې ته د رسیدو مهم او اساسي ځواک افغان ولس دی، چې نور باید د غفلت له خوبه را پاڅیږی او خپل ګران ټاټوبي ته له روانو غمیزو نه خلاصون ور په برخه کړي. لکه چې د مخه مې د سولې په پروسه کې د دریم ځواک موجودیت او اهمیت ته اشاره وکړه د داسې ځواک جوړېدل، اهمیت او د اغیزو په هکله به په راتلونکې کې د یوې ځانګړې مقالې له لارې خپل اند شریک کړم.
یوه بله اسانه لار هم د همدې سولې په روانه پروسه کې چې امریکایانو پیل کړې او د جګړې د دواړو خواوو، دولت، طالبانو او په نوم د هېواد د سیاسیونو له لوري د یرغمل خواته روانه ده، په درې واړه اړخونو کې هېواد پال ملي عناصر د روانو دسیسو په مقابل کې یوه خوله کیدل، هېواد ته د خاینو مهرو او لاسپوڅو مزل لنډولای شي، په داسې حال کې د هېواد ژغورنې تر شعارلاندې د رسا غږ پورته کول، پرولس او هېوادوالو د کامل باور له لارې خاین او هېواد پلورونکي عناصر رسوا او د بهرنیانو د شومو موخو د رسوا کولو په لار کې ملي او نړیوال ګامونه اوچت کړي، چې په باور سره ویلی شم هېوادوال به یې د اوسپنیز سنګر په توګه تر شا ودریږی او په دغه صورت کې به نړیواله ټولنه اړویستل شي چې د دوی غوښتني و مني او د عملي کولو په لار کې به یې مثبت ګامونه واخلی.

پای

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ